اونیزه مجله :342
WEEKLY BOOKLET:342

د امیرِ اهلِ سُنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه په ربیع الآخر ۱۴۴۱ هجري
بمطابق دسمبر 2019 په عالمي مدني مرکز فیضانِ مدینه (کراچۍ) کښې
د مدني مذاکرې نه مخکښې شوو د دوو مختلفو بیانونو تحریري ګلدسته
(مع ترمیم و اضافه) په نوم

# د شهنشاهِ بغداد سِیرت

PASHTO




د ویریدلو غټه خبره 04
د نیکه مبارک کرامت 10
د غوثِ اعظم اعلان 13
ولایت د نُبوّت نه زیات نه دے 16



پیشکش: (دعوتِ اسلامی)
المدینه العلمیه
Islamic Research Center

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# د شهنشاهِ بغداد سيرت

دُعائے عطار: يا الله پاكه! څوک چې دا رساله "د شهنشاهِ بغداد سيرت" اولولي يا واوري، هغه زمونږه د خوږ غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د فيوضو او بركتونو نه مالا مال كړې او هغه سره د مور پلار بے حسابه اوبخښې. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شريف فضيلت

د آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: چا چې په ورځ او شپه كښې زما په لور د شوق او محبت له وجهې درې درې ځله درودِ پاک اولوستو، په الله پاک باندې حق دے چې د هغهٔ د هغه ورځې او شپې ګناهونه معاف كړي. (معجم كبير، 362/18، حديث: 928)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د غوثِ اعظم قدم

حضرت ابو سعيد عبدُ الله محمد هِبـةُ الله تَميمي شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وائي: زه په ځوانئ كښې د عِلم د پاره بغداد ته لاړم، په هغه زمانه كښې ابنِ سقا (نومې يو ګس) په مدرسه نظاميه كښې زما سره سبق وئيلو، مونږه به عبادت او د صالحانو (يعنې د الله پاک د نيكانو بندګانو) زيارت كولو، په بغداد كښې يو صاحب د "غوث" په نوم مشهور وو او د هغوئي دا كرامت مشهور وو چې كله اوغواړي ظاهر شي او چې كله اوغواړي د نظر نه پناه شي، يوه ورځ زه، ابنِ سقا او حضرت شيخ عبدُ القادرِ جيلاني چې هغه وخت ځلمے وو، د هغه "غوث" د زيارت د



www.dawateislami.net

پاره روان شُو، په لار کښې ابنِ سقا اووئيل: نن به زه د هغه غوث نه د داسې مسئلې پوښتنه کووم د کومې جواب چې به هغوئي له نه ورځي. (مَعَاذَالله!) ما اووئيل: زه به هم د يوې مسئلې پوښتنه کووم، ګورو چې څه جواب راکوي، حضرت شيخ عبدُ القادر رَحْمَةُاللهِ عَلَيه اوفرمائيل: مَعَاذَ الله! [د الله پناه چې] زه د هغوئي په مخکښې د هغوئي نه څه پوښتنه اوکړم، زه خو به د هغوئي د ديدار د برکتونو نظاره کووم. چې کله مونږ د هغه غوث خوا ته حاضر شو نو هغوئي مو په خپل ځائے کښې اونه ليدلو، لږ ساعت پس چې مو اوکتل نو تشريف فرما وو، د ابنِ سقا په لور يې د غضب په نظر اوکتل او اوئې فرمائيل: **"تا له دې خرابي وي اے ابنِ سقا! تهٔ به زما نه هغه پوښتنه کوې د کومې جواب چې ما له نه راځي، ستا مسئله دا ده او د هغې جواب دا دے، بے شکه زه د کُفر وور په تا کښې بَل وينم."** بيا يې ما ته اوکتل او اوئې فرمائيل: اے عبدُ الله! تهٔ به زما نه پوښتنه کوې چې زه څه جواب درکووم، ستا مسئله دا ده او د هغې جواب دا دے، ضرور به په تا باندې دُنيا دومره غوشيان (ګند) کوي [چې] تهٔ به تر غوږونو پورې په هغې کښې غرق شې، دا ستا د بے ادبئ بدله ده. بيا يې حضرت شيخ عبد القادر رَحْمَةُاللهِ عَلَيه ته اوکتل، هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيه يې ځان ته رانزدې کړو او د هغوئي عزت يې اوکړو او اوئې فرمائيل: **"اے عبدُ القادره! بے شکه تاسو په خپل حُسنِ اَدب سره الله او رسول راضي کړل، ګويا چې زه په دې وخت کښې وينم چې تاسو د بغداد په اجتماع کښې فرمايئ چې زما دا ښپه د هر وَلِيُّ الله په څټ باندې ده او د وخت ټولو وَليانو ستاسو د تعظيم د پاره غاړې ښکته کړې دي".** هغه غوث دا اوفرمائيل او زمونږ د سترګو نه پناه شو بيا مونږه هغوئي اونه ليدلو. په شيخ عبدُ القادر رَحْمَةُاللهِ عَلَيه باندې د **الله** پاک د نزدې والى علامتونه ظاهر شول، البته ابنِ سقا د يو غير مسلمه بادشاه په ښکلې لور باندې عاشق شو، د هغې سره يې د نکاح د پاره اووئيل، هغه اووئيل: غير مسلمه شه، هغه بد بخته د هغه مذهب اختيار کړو، وَالعِياذُبِالله. (عبد الله وائي:) پاتې شوم زه، زه دِمَشق ته لاړم، هلته سُلطان نورُ الدين شهيد زه د اوقافو په افسر جوړيدو باندې مجبور کړم او دُنيا [يعني مال و دولت] په کثرت سره زما په لور



www.dawateislami.net

راغلو. "**د هُغه غوث ارشاد زمونږ د ټولو په باره کښې چې څه وو پوره شو**". (بهجةالاسرار، ص:19)

## د اللّٰه پاک د وَلي د بے ادبئ نه ويريږئ

**په فتاوئ حديثيه کښې دي:** هغه غير مسلمه بادشاه اِبنِ سقا ته په مُرتد کيدو خو خپله لور ورکړه خو چې کله اِبنِ سقا بيمار شو نو هغه يـې په بازار کښې اوغورځولو، خير به يـې غوښتو او چا به ورله نه ورکولو، يو کَس چا چې هغه پيژندو، د هغه په خوا تيريدو نو پوښتنه يـې ترينه اوکړه چې تهٔ خو حافظ وې اوس هم درته د قرآنِ کريم نه څه ياد دي؟ اوئې وئيل هر څه رانه هير شوي دي صرف يو آيت راته ياد دے.

رُبَمَا یَوَدُّ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا لَوْ كَانُوْا مُسْلِمِیْنَ ۝۲

(پاره14، الحجر:2)

[مفهوم] ترجمۂ كنزُ الْعِرفان: کافران به ډير ارمانونه کوي چې کاش هغوئي مسلمانان وے.

امام ابنِ ابي عَصرون فرمائي: يوه ورځ زه د ابنِ سقا د ليدو د پاره لاړم، هغه مې په دې حال کښې اوليدو چې لکه د هغه ټول بدن په وور باندې سوزيدلے وي، د هغه ځنکدن وو، ما د هغه مخ د قبلې په لور کړو نو هغه بَل اړخ ته واوړيدو، ما بيا د قبلې په لور کړو هغه بيا واوښتو. ما به چې خومره د هغه مخ د قبلې په لور کولو هغه به اووښتو تر دې چې د قبلې نه بَل اړخ ته په مخ کولو ترينه ساه لاړه، " **هغه به د هغه غوث ارشاد يادولو او پوهيدو چې هُغې ګستاخئ هغه په دې مصيبت کښې اچولے دے**". وَالعياذُبِاللّٰه.

علامه ابنِ حَجَر هَيتَمي او امام يافَعي رَحمَةُاللّٰہِعَلَيهِما فرمائي: دا واقعه د برابروخبرونو نه ثابته ده او د دې نقل کوونکي بکثرت ثِقه عادل دي. (فتاوئ حديثيه، ص:415 مرآةالجنان، 268/3)

الامان قہر ہے اے غوث وہ تیکھا تیرا  
مر کے بھی چین سے سوتا نہیں مارا تیرا  
عقل ہوتی تو خدا سے نہ لڑائی لیتے  
یہ گھٹائیں اُسے منظور بڑھانا تیرا



www.dawateislami.net

مٹ گئے مٹتے ہیں مٹ جائیں گے اعدا تیرے — نہ مٹا ہے نہ مٹے گا کبھی چرچا تیرا
تو گھٹائے سے کسی کے نہ گھٹا ہے نہ گھٹے — جب بڑھائے تجھے اللہ تعالٰی تیرا
سَمِّ قاتل ہے خُدا کی قسم اُن کا اِنکار — منکرِ فضلِ حضور آہ یہ لکھا تیرا

(حدائقِ بخشش، ص28، 29)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د ویریدو غټه خبره

امام ابنِ حَجَر هَیتمي مکي شافعي رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: په دې واقعه کښې د اولیائے کرامو نه په انکار سخت رَټَل (مقصد) دے د دې ویرې نه چې منکر (یعني د اولیائے کرامو یا د هغوئي د کراماتو او اختیاراتو نه منونکے) په هغه هلاکیدونکې فِتنه کښې اخته شي کومه چې د همیشه همیشه د پاره ده، د کومې نه زیات چې هیڅ خباثت نشته په کومه کښې چې ابنِ سقا اخته شو، د **الله** پاک پناه. مونږ د **الله** کریم نه د هغه د وجهِ کریم او د هغه د رسولِ کریم صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم په وسیله باندې دُعا کوو چې مونږ د خپل احسان او کرم سره د دې نه او د هرې فتنې او محنت (ازمیښت، غم) نه په اَمان کړي. په دې واقعه کښې د دې خبرې هم زیات ترغیب دے چې د اولیائے کرامو سره عقیدت او اَدب ساتئ او چې څومره وي په هغوئي باندې نیک گُمان کوئ. (فتاویٰ حدیثیه، ص:415)

سیّدي اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ لیکي: **الله** پاک دې د خپلو محبوبانو حُسنِ اَدب رانصیب کړي او د هغوئي په محبت دې خاتمه رانصیب کړي او د هغوئي په پاکه ډله کښې مو دې راپاڅوي، آمین! آمین.

(فتاویٰ رضویه، 28/401)

محفوظ سدا رکھنا شہا! بے ادبوں سے — اور مجھ سے بھی سرزد نہ کبھی بے ادبی ہو

(وسائلِ بخشش، ص:315)



www.dawateislami.net

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

اے د غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عاشقانو! د **الله** پاک په مونږه باندې ډېر لوئي فضل او کرم دے چې هغه مونږ ته د خپلو مقبولو بندګانو او د اوليائے کرامو رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم د عزت او تعظيم کولو، د هغوئي د عرس کولو، مزارونو مبارکو ته د حاضرئ کولو او د هغوئي د سيرت او شان بيانولو توفيق راعطا کړے دے. اوليائے کرام او بزرګانِ دِين رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم د **الله** پاک خوښ بندګان وي، د هغوئي ټول ژوند د **الله** پاک او د نبيِ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ياد کښې تيرېږي، مونږ له هم داسې د شريعت مطابق ژوند تيرول پکار دي. **الله** پاک په خپلو اوليائے کرامو رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم باندې خپل رحمتونه نازلوي.

د اوليائے کرامو د شان او عظمت د پاره د قرآن يو آيت وړاندې کووم، لکه څنګه چې په يوولسمه سيپاره سورۀ يونس آيت نمبر 62 کښې ارشاد دے:

اَ لَاۤ اِنَّ اَوْلِيَآءَ اللّٰهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَ لَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿٦٢﴾

[مفهوم]ترجمۀ کنزُ الْعِرفان: واورئ! بيشکه د **الله** په اولياؤ به نه څه ويره وي او نه به هغوئي غمژن کيږي.

## د دُنيا او د آخرت د ويرې نه بَرِي

د دې آيت په تفسير کښې حضرت عبدُ الله بن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا فرمائي: "په اوليائے کرامو (رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم) باندې به په دُنيا کښې هيڅ ويره نه وي او نه به په آخرت کښې هغوئي غمژن وي بلکې **الله** کريم به د خوشحالئ او عزت او تکريم سره هغوئي ته هرکلے فرمائي او هغوئي ته به هميشه پاتې کيدونکي نعمتونه عطا کوي." (حکايتيں اور نصيحتيں، ص:361)

مفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د يو آيت مبارک په تفسير کښې فرمائي: د **الله** پاک يوولسمه ډيره خوښه ده چې د اولياءَ الله ذکر يې د يوولسمې سيپارې په يوولسمه رکوع کښې فرمائيلے دے. (تفسير نور العرفان، ص:343) يعنې دا کوم آيت



www.dawateislami.net

چې اوس بيان شو دا د يوولسمې سيپارې په يوولسمه ركوع كښې دے.

کیا غور جب گیارہویں بارہویں میں — مُعمّا یہ ہم پر کھلا غوثِ اعظم
تمہیں وصل بے فصل ہے شاہِ دیں سے — دیا حق نے یہ مرتبہ غوثِ اعظم

(ذوق نعت، ص:181)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## مختصر تعارف

اے د غوثِ اعظم رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه عاشقانو! زمونږه خوږ خوږ پير او مُرشد سيّدي حُضُور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډير لوئي وَلِيُّ الله بلكې د اولياؤ هم سردار وو. د هغوئي مبارک نوم "عبدُ القادر" كُنيت "ابو محمد" او اَلقابات "محيُ الدِّين، محبوبِ سبحاني، غوثُ الثَّقَلين، غوثُ الاعظم" وغيره دي، هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په 470ھ كښې د بغداد شريف سره خوا ته علاقه جيلان كښې د رَمَضَانُ الْمُبَارَک په وړومبي تاريخ دنيا ته تشريف راوړلو. هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د والدِ محترم له خوا د رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نمسي، د [سيّده فاطمه] بتول د زړګي سر سيّدُ الاَسخِيا، راكبِ دوشِ مصطفٰے، اِمام حَسن مُجتبىٰ رَضِىَ اللهُ عَنْهُ يوولسم نمسے دے. (بهجة الاسرار، ص: 171 ماخوذاً)

حُضُور غوثِ پاک رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د مور بي بي د طرف نه د اِمامِ عالي مقام، سيدُ الشُّهداء اِمام حُسين رَضِىَ اللهُ عَنْهُ دولسم نمسے دے. لكه څنګه چې علّامه علي قاري رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د هغوئي د مور بي بي د طرف نه د هغوئي نسب شريف بيان كړے دے. (نزهة الخاطر الفاتر، ص:12)

مَاشَآءَ اللهُ الكريم! په دې [يعني د شجرهٔ نسب په] معامله كښې هم نسبت د يوولسمې او دولسمې دے.

کیا غور جب گیارہویں بارہویں میں — مُعمّا یہ ہم پر کھلا غوثِ اعظم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد



www.dawateislami.net

زما مُرشِد، زما پیر، د پیرانو پیر، پیرِ دستګیر، روشن ضمیر، غوثُ الصَّمَداني، قطبِ ربّاني، محبوبِ سُبحاني، قِندیلِ نوراني، شیخ ابو محمد عبدُ القادر جیلاني رحمۃ اللہ علیہ د رَمَضَانُ المُبَارَک په ورومبي تاریخ د صبح صادق په وخت دنیا ته تشریف راوړلو، هغه وخت زما د پیر او مرشد، د پیرانو پیر شیخ عبدُ القادر جیلاني رحمۃ اللہ علیہ شونډې مبارکې خوزیدلې او د "**الله، الله**" آواز ترینه راتللو. (الحقائق في الحدائق، 139/1)

د غوثِ پاک رحمۃ اللہ علیہ د ولادت شریف په معامله کښې هم د دولسمې والا آقا صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم سره نسبت دے چې خوږ آقا صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم هم د ګل شریف په ورځ د صبح صادق په وخت دنیا ته تشریف راوړلو.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## یوولس سوه ماشومان

زما مُرشد حُضُور غوثِ پاک شیخ عبدُ القادر جیلاني رحمۃ اللہ علیہ چې په کومه ورځ دنیا ته تشریف راوړلو په هغه ورځ په جیلان شریف کښې یوولس سوه ماشومان پیدا شول هغه ټول هلکان وو او ټول وَلِيُّ الله جوړ شول. (تفریح الخاطر، ص:15)

واہ کیا مرتبہ اے غوث ہے بالا تیرا　　اونچے اونچوں کے سروں سے قدم اعلیٰ تیرا
سر بھلا کیا کوئی جانے کہ ہے کیسا تیرا　　اولیا ملتے ہیں آنکھیں وہ ہے تلوا تیرا

**شرحِ کلامِ رضا:** یعني اے غوثِ پاکه! ستاسو د سر مبارک په عظمت څوک پوهیږي، ستاسو د ښپو تَلي کوم چې د زمکې سره لګي، ستاسو د تَلو دا شان دے چې اولیائے کرام ستاسو په مبارکو تَلو پورې خپلې سترګې مَږي.

نبوی مینھ علوی فصل بتولی گلشن　　حسنی پھول حُسینی ہے مہکنا تیرا

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد



www.dawateislami.net

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! چې کله به زما مُرشدِ کريم، حُضُور غوثِ پاک شيخ عبدُ القادر جيلاني رحمۃُ اللہِ علیہ په ماشومتوب کښې د لوبو اراده اوفرمائيله، نو غيبي آواز به راغے: اے عبدُ القادره! مونږه تهٔ د لوبو د پاره نه يې پيدا کړے. (الحقائق في الحدائق، ص:140) چې هغوئي رحمۃُ اللہِ علیہ به کله مدرسې ته تشريف يوړلو نو آواز به راتللو: "د الله وَلي له ځائے ورکړئ." (بهجة الاسرار، ص: 48 ملخصاً)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## هغوئي ته "غوث" ولې وئيلے شي

اے د غوثِ اعظم رحمۃُ اللہِ علیہ عاشقانو! د لفظ "غوث" معنىٰ ده "فرياد رَس" يعني فرياد ته رسيدونکے. حُضُور غوثِ پاک رحمۃُ اللہِ علیہ د **الله** پاک په عطا سره، د **الله** پاک په ورکړے شوي طاقت سره د غريبانانو، بے وَسو او حاجت مندو مدد کوي ځکه هغوئي رحمۃُ اللہِ علیہ ته "غوثِ اعظم" وئيلے شي. هغوئي د "پيرانِ پير دستګير" په لقب سره هم يادولے شي. (بهجة الاسرار، ص:48 ملخصاً)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د غوثِ پاک خاندان

اے د غوثِ اعظم رحمۃُ اللہِ علیہ عاشقانو! زمونږه د خوږ خوږ پير او مُرشِد سرکارِ بغداد، حُضُور غوثِ پاک شيخ عبد القادر جيلاني رحمۃُ اللہِ علیہ د والدِ محترم نوم "ابو صالح موسىٰ جنګي دوست" وو او د هغوئي د مور بي بي نوم مبارک "اُمُّ الخير فاطمه رحمۃُ اللہِ علیہا" وو. د سرکارِ بغداد حضور غوثِ پاک رحمۃُ اللہِ علیہ والدِ محترم د جيلان شريف په لويو بزرګانِ دِين کښې وو. د هغوئي رحمۃُ اللہِ علیہ لقب "جنګي دوست" ځکه شو چې هغوئي رحمۃُ اللہِ علیہ خالصتاً د **الله** پاک د رضا د پاره د دنيائي خواهشونو نه د لرې کيدو سره سره په شرعي او دِيني معاملو کښې ښه ډير محنت



www.dawateislami.net

او مشقت کولو کښې په خپله زمانه کښې بے مثاله وو، د نيکئ دعوت ورکولو او د ګناهونو نه بچ کيدو کښې مشهور وو او په دې معامله کښې به يـې د خپل ځان پروا هم نه کوله،

## د شرابو مَنګي يـې مات کړل

يوه ورځ هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه جامع مسجد ته روان وو چې د وخت د خليفه يو څو نوکرانو د شرابو منګي ډير په احتياط سره په سرونو باندې وړل، هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې کله هغوئي اوليدل نو په جلال کښې راغلو او هغه منګي يـې مات کړل. د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د رُعب او بزرګئ په وړاندې يو نوکر هم د خبرې کولو همت اونکړو، هغوئي د وخت خليفه ته ټوله قيصه بيان کړه نو خليفه اووئيل: ”سيّد موسیٰ (رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه) فوراً زما دربار کښې پيش کړئ“ حضرت سيّد موسیٰ يعني د غوثِ پاک والدِ محترم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دربار ته تشريف راوړلو، خليفه هغه وخت په ډيره غصه کښې په کرسئ کښې ناست وو، هغه په قهريدلي انداز اووئيل: ”تاسو څوک يئ زما د نوکرانو محنت ضائع کولو والا؟“ حضرت سيّد موسیٰ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوفرمائيل: ”زه محتسب (يعني حساب اخستونکے) يم او ما د خپل منصب فرض ادا کړي دي.“ خليفه اووئيل: ”تاسو د چا په حکم باندې محتسب مقرر کړے شوي يئ؟“ حضرت سيّد موسیٰ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په رُعب داره لهجه کښې جواب ورکړو: ” د چا په حکم چې تهٔ حکومت کوې.“ د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په دې وئيلو باندې په خليفه باندې يو دَم ويره راغله، هغه په زنګونانو باندې سر کيښودو او کښيناستو او لږ ساعت پس يـې سر راوچت کړو او ډير په نرمئ سره يـې عرض اوکړو: يا سيِّدي (اے زما آقا)! اَمرٌ بِالْمَعْرُوْف او نَهْیٌ عَنِ الْمُنْکَر (د نيکئ د دعوت ورکولو او د بدو نه د منع کولو) نه علاوه په منګو ماتولو کښې څه حکمت دے؟ ارشاد يـې اوفرمائيلو: ”ستا په حال باندې د شفقت کولو او تا د دُنيا او د آخرت د رسوايئ او ذلت نه بچ کولو د پاره.“ په خليفه باندې د حکمت نه ډکو دې خبرو ډير اثر اوکړو او هغه متاثره شو او د هغوئي په خدمت کښې يـې عرض اوکړو: ”عالي جاه! تاسو زما د طرف نه هم محتسب مقرر يئ.“ د غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه



www.dawateislami.net

والدِ **محترم** د توکُّل په انداز کښې ارشاد اوفرمائيلو: " چې د **الله** پاک د طرف نه زه مقرر يم نو بيا د **مخلوق** د طرف نه زما د مقرر کيدو څه ضرورت دے." د هغې ورځې نه هغوئي د "**جنګي دوست**" په لقب سره مشهور شو. (سيرت غوث الثقلين، ص: 53)

کيوں نہ قاسم ہو کہ تو ابنِ ابی القاسم ہے　　　　کیوں نہ قادر ہو کہ مُختار ہے بابا تیرا

(حدائقِ بخشش، ص: 20)

## د غوثِ پاک رحمۃ اللہ علیہ نيکه بابا

د حُضور غوثِ پاک حضرت شيخ عبد القادر جيلاني رحمۃ اللہ علیہ [د مور بي بي د طرف نه] نيکه بابا جان حضرت عبدُ الله صَومَعي رحمۃ اللہ علیہ د جيلان شريف په اوليائے کرامو کښې وو. هغوئي رحمۃ اللہ علیہ ډير پرهيزګاره وو او د فضل او کمال خاوند او ډير لوئي عالِم هم وو، هغوئي رحمۃ اللہ علیہ مُستَجابُ الدّعَوَات وو (يعنې د هغوئي دعاګانې به قبليدلې). (بهجة الاسرار، ص: 171، 172)

## د نيکه مبارک کرامت

په بهـجة الاسرار شريف کښې دي: حضرت عبدُ الله قَزوِيني رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: زمونږ بعضې پيژندګلو خلق د يوې قافلې سره د سَمَرقَند په لور روان وو چې صحرا [يعنې شاړو] ته اورسيدل نو ډاکوانو پرې حمله اوکړه هغوئي په هغه سخت وخت کښې شيخ عبدُ الله صَومَعي رحمۃ اللہ علیہ ياد کړو نو د غوثِ پاک نيکه بابا حضرت عبد الله صَومَعي رحمۃ اللہ علیہ ناڅاپه هلته تشريف راوړلو او "سُبُّوحٌ قُدُّوسٌ رَّبُّنَا الله" يـې اولوستل نو ډاکوان [اوتښتيدل] غرونو ته اوختل او بعضو د ځنګل په لور منډې کړې. (بهجة الاسرار، ص: 172 ملخصاً)

## د ترور بي بي کرامت

د حُضُور غوثِ پاک رحمۃ اللہ علیہ [د والدِ محترم د اړخ نه] د ترور بي بي کُنيت "اُمِّ محمد" او نوم مبارک يـې "عائشه بنت عبدُ الله" وو. هغه رحمۃ اللہ علیہا ډيره نيکه او د کرامت والا زنانه وه.

خلق به د خپلو مشکلاتو د دعاګانو کولو د پاره د هغې په خدمت کښې حاضريدل. يو ځل په جيلان کښې قحط راغے (دانه غَله کمه شوه) خلقو د اِستِسقاء نـمونځ (د باران د دعا کولو د پاره کيدونکے نـمونځ) اوکړو، خو باران اونشو نو د پير او مرشد حضور غوثِ پاک رحمۃُاللہِ علیہ د ترور بي بي حضرت سيّده عائشه بنت عبدُ الله رحمۃُاللہِ علیہا کور ته راغلل او هغې ته يـې د باران د پاره د دُعا کولو خواست اوکړو. د حضور غوثِ پاک رحمۃُاللہِ علیہ ترور بي بي د خپل کور د دالان په لور تشريف يوړلو او زمکه يـې جارو کړه او دعا يـې اوکړه: "اے رَبُّ العَالَمِين! ما ځائے جارو کړو او اوس پرې تهٔ ترَمکيا اوکړې." لږ وخت پس د اسمان نه دومره باران اوشو لکه د مَشک خُله (يعني د اوبو نلکه) چې برسيره کړے شي، خلق خپلو کورونو ته په دې حال کښې واپس لاړل چې ټول لامده وو او جيلان خوشحاله شو. (بهجة الاسرار، ص: 173)

سيد وعالی نسب در اولياء است　　نورِ چشمِ مُصطفےٰ و مُرتضےٰ است

# اولاد مبارک

هغوئي رحمۃُاللہِ علیہ د خپل مبارک اولاد ظاهري باطني تعليم او تربيت ته خصوصي توجه فرمائيلې وه، په دې وجه په هغوئي کښې اکثر لوئي لوئي عالمَان او فاضلان جوړ شول. د هغوئي رحمۃُاللہِ علیہ د بعضې شهزادګانو نومونه دا دي: سيّد عبدُ الوهّاب، سيّد عبدُ الرّزاق، سيّد عبدُ العزيز، سيّد محمد يحييٰ، سيّد محمد عبدُ الله، سيّد عبدُ الجبّار، سيّد محمد موسیٰ، سيّد محمد عيسیٰ، سيّد محمد ابراهيم، سيّد محمد رحمۃُاللہِ علیہم .

په زُبدةُ الآثار کښې دي: د هغوئي رحمۃُاللہِ علیہ د پاک اولاد نه خلقو ته چې څومره علمي فيض حاصل شو او د زماني څومره لوئي لوئي عالمَانو د هغوئي نه زدکړه اوکړه، دومره علمي کمالات او روحاني فيض د بَل يو بزرګ د اولاد نه نهٔ دے ليدلے شوے. (زُبدةُ الآثار، ص: 41)



www.dawateislami.net

## د غوثِ اعظم رحمۃُاللہِ علیہ ورور

د حضور غوثِ پاک رحمۃُاللہِ علیہ يو ورور هم وو د چې نوم يـې سيد ابو احمد عبد الله وو. دا د حضور غوثِ پاک رحمۃُاللہِ علیہ نه په عمر کښې وړوکے وو او د علم او تقویٰ نه ورته کافي حصه ميلاو شوې وه خو هغوئي رحمۃُاللہِ علیہ په ځوانئ کښې وفات شوے وو. (مرآۃالجنان،ص:265ملخصاً) د حضور غوثِ پاک رحمۃُاللہِ علیہ خاندان د نيکانو کورنئ وه، د هغوئي رحمۃُاللہِ علیہ [د مور او پلار دواړو له طرفه] نيکونه، والدِ محترم، مور بي بي، ترور بي بي، ورور او شهزادګان ټول متقي او پرهيزګاران وو، په دې وجه خلقو د هغوئي خاندان ته "د اَشرافو خاندان" وئيلو.

## د سلطنت قيمت د وربَشې د دانې برابر هم نه دے

د بغداد د شهنشاه حضور غوثِ پاک شيخ عبد القادر جيلاني رحمۃُاللہِ علیہ په خدمت کښې د نيمروز بادشاه خط اوليږو چې د ملک څه علاقه د جاګير په توګه تاسو ته درکول غواړم د پاره د دې چې تاسو هم زما په شان د عيش او آرام ژوند تير کړئ، سيّدي و مرشِدي غوثِ پاک شيخ عبدُ القادر جيلاني رحمۃُاللہِ علیہ د هغې په جواب کښې په (فارسئ کښې) يوه رُباعي (څلور شعرونه) اوليکل او ور اوئې ليږل (د کومې ترجمه چې څه داسې ده:)

که زما په زړۀ کښې د سنجر ملک څه لږ هم لالچ وي نو د سنجر د بادشاه د تور رنګ د تاج په شان دې زما بخت تور شي يعنې زما قِسمت دې هم تور شي ځکه چې ما ته د نيمې شپې دولت (د شپې د عبادت او د حق د ياد) سلطنت حاصل دے، د سلطنتِ نيمروز قيمت زما په نظر کښې د وربشې د دانې برابر هم نه دے. (اخبار الاخيار، ص:204 ملخصاً)

اُن کا منگتا پاؤں سے ٹھکرا دے وہ دُنیا کا تاج     جس کی خاطر مر گئے مُنعم رگڑ کر ایڑیاں

د سيدي مرشدي غوثِ اعظم دستګير، حضرت شيخ عبدُ القادر جيلاني رحمۃُاللہِ علیہ نه چا پوښتنه اوکړه: "تاسو رحمۃُاللہِ علیہ ته د خپل وَلي کيدلو د کله نه معلومه شوه؟" ارشاد يـې اوفرمائيلو چې "زما عمر لس کاله وو، زه به چې د خپل کور نه



www.dawateislami.net

مدرسې ته د سبق د پاره تلم نو فرښتې به مې ليدلې، هغوئي به هلکانو ته وئيل چې ”د الله وَلي ته د کښيناستو د پاره ځائے فراخه کړئ.“ (بهجة الاسرار، ص:48)

فرشتے مدرسے تک ساتھ پہنچانے کو جاتے تھے ۔۔۔ یہ دربارِ الٰہی میں ہے رُتبہ غوثِ اعظم کا

(قبالۂ بخشش، ص:96)

ہیں پیراں پیر غوثِ پاک ۔۔۔ ہیں میر میراں غوثِ پاک
محبوب سبحاں غوثِ پاک ۔۔۔ ولیوں کے سلطاں غوثِ پاک
محبوب یزداں غوثِ پاک ۔۔۔ سلطان ذیشاں غوثِ پاک
مشکل ہو آساں غوثِ پاک ۔۔۔ دو درد کا درماں غوثِ پاک
فرماؤ احساں غوثِ پاک ۔۔۔ راحت کا ساماں غوثِ پاک
بُلواؤ جاناں غوثِ پاک ۔۔۔ بن جاؤں مہماں غوثِ پاک
جس وقت چلے جاں غوثِ پاک ۔۔۔ یا پیر! ہو احساں غوثِ پاک
پورا ہو جاناں غوثِ پاک ۔۔۔ دیدار کا ارماں غوثِ پاک
ہو جائے مری جاں غوثِ پاک ۔۔۔ بس آپ پہ قرباں غوثِ پاک
ٹل جائے شیطاں غوثِ پاک ۔۔۔ بچ جائے ایماں غوثِ پاک
اُف! حشر کا میداں غوثِ پاک ۔۔۔ لو زیر داماں غوثِ پاک

(وسائلِ فردوس، ص:59)

## د غوثِ اعظم اعلان

حافظ ابو العِز عبدُ المُغيث بن ابو حَرب بغدادي رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: مونږ په بغداد کښې د غوثِ پاک رحمۃ اللہ علیہ په اجتماع ”رباط حلبه“ کښې حاضر وو هغه وخت د عراق اکثر مشائخ رحمۃ اللہ علیہم هم موجود وو او حضور غوثِ پاک رحمۃ اللہ علیہ بيان فرمائيلو چې هغه وخت هغوئي اوفرمائيل: **قَدَمِیْ هٰذِهٖ عَلٰی رَقَبَةِ کُلِّ وَلِیِّ اللّٰه** يعني **زما دا قدم د هر ولي الله په څټ باندې دے**“ دا يــې چې واوريدل نو حضرت سيدنا شيخ علي بن هَيتي رحمۃ اللہ علیہ پاځيدو او د منبر خوا له يــې



www.dawateislami.net

تشريف يوړلو او د غوثِ پاک رحمۃُ اللہِ علیہ قدم مبارک يې په خپل څټ باندې کېښودو. د دې نه پس ټول حاضرين ور وړاندې شول او خپل څټونه يې ښکته کړل. (بھجۃالاسرار، ص: 22،21ملخصاً)

یہ دل یہ جگر ہے یہ آنکھیں یہ سر ہے　　جہاں چاہو رکھو قدم غوثِ اعظم
قدم کیوں لیا اولیا نے سروں پر　　تمہیں جانو اِس کے حِکم غوثِ اعظم
دمِ نزع سرہانے آجاؤ پیارے　　تمہیں دیکھ کر نکلے دم غوثِ اعظم
کوئی دم کے مہماں ہیں آجاؤ اس دم　　کہ سینے میں اٹکا ہے دم غوثِ اعظم
دمِ نزع آؤ کہ دم آئے دم میں　　کرو ہم پہ لِلّٰہ دم غوثِ اعظم
تمہارے کرم کا ہے نوری بھی پیاسا　　مِلے یَم سے اِس کو بھی نَم غوثِ اعظم

(سامانِ بخشش، ص: 126تا128)

## عبدُ القادر رښتيا وئيلي دي

امام اَبُو الحَسَن علي شَطَنُوفي شافعي رحمۃُ اللہِ علیہ فرمائي: د حضورِ پاک صلَّی اللہُ علیہِ واٰلہٖ وسلَّم په ديدار مبارک به شيخ خليفهٔ اکبر رحمۃُ اللہِ علیہ په کثرت سره مشرف کيدلو: هغوئي اوفرمائيل: په خدائے مې دې قَسم وي! بے شکه ما رسولُ الله صلَّی اللہُ علیہِ واٰلہٖ وسلَّم (په خوب کښې) اوليدو عرض مې اوکړو: يا رسولَ الله! شيخ عبدُ القادر اوفرمائيل چې زما ښپه د هر ولي الله په څټ باندې ده، رسولُ الله صلَّی اللہُ علیہِ واٰلہٖ وسلَّم اوفرمائيل: " **عبد القادر رښتيا اووئيل او ولې به نه وي چې هُم هغه قُطب دے او زه د هغه نګهبان."** (بھجۃالاسرار، ص: 27)

سيّدي اعلىٰ حضرت امام احمد رضا خان رحمۃُ اللہِ علیہ په بارګاهِ غوثيت کښې ډير د عاجزئ د اظهار په انداز کښې ليکي: کلبِ بابِ عالي (يعنې د هغه مبارک کور سپے يعنې وفادار غلام) عرض کوي، اَلْحَمْدُلِلّٰه! **الله** پاک زمونږه آقا ته د دې وئيلو حڪم اوکړو، د وئيلو په وخت يې د هغوئي په زړهٔ مبارک باندې تجلي اوفرمائيله، نبي صلَّی اللہُ علیہِ واٰلہٖ وسلَّم خِلعَت (بيش بها پوشاک) راوليږلو، ټول اولياء راجمع کړے شول، د ټولو په مخکښې ورته واغوستلے شو. فرښتې راجمع شوې، رِجالُ الغَيب (دا هم د اوليائے



www.dawateislami.net

كراموپو قِسم دے) سلامي اوكړه. د ټولو جهان اولياؤ څټونه ښكته كړل. اوس چې څوک غواړي (په دې) راضي دې شي، څوک چې غواړي ناراضه دې شي. (فتاویٰ رضویه،28/385ملخصاً)

سروں پر جسے لیتے ہیں تاج والے — تمہارا قدم ہے وہ یا غوثِ اعظم
لپٹ جائیں دامن سے اُس کے ہزاروں — پکڑلے جو دامن ترا غوثِ اعظم

(ذوقِ نعت، ص: 183)

# صرف په سر نۀ بلكې په سترګو باندې

د چشتي سلسلې عظيم پيشوا خواجه غريب نواز معينُ الدِّين چشتي اَجميري رحمۃ اللہ علیہ به په خپله ځوانئ كښې د خرُاسان ملک د يو غر په يو غار كښې عبادت كولو، حضور غوثِ پاک رحمۃ اللہ علیہ چې كله په بغداد شريف كښې دا اوفرمائيل: قَدَمِیْ هٰذِهٖ عَلٰی رَقَبَةِ كُلِّ وَلِیِّ الله يعنې **زما دا قدم د هر ولي الله په څټ باندې دے**" نو هغه وخت خواجه غريب نواز رحمۃ اللہ علیہ (هم هلته [غار كښې] په ناسته دا واوريدل او) خپل سر يـې ټيټ كړو او اوئې فرمائيل: "بَلْ عَلٰی رَاْسِیْ يعنې **بلكې زما په سر باندې.**" (سیرت غوث الثقلین، ص:89)

جب سے تُو نے قدمِ غوث لیا ہے سر پر — اولیا سر پہ قدم لیتے ہیں شاہا تیرا
مُحیِ دین غوث ہیں اور خواجہ معینُ الدّیں ہے — اے حسن کیوں نہ ہو محفوظ عقیدہ تیرا

(ذوقِ نعت، ص: 29)

# د خپله ځانه يـې اونه فرمائيل

امام ابنِ حَجَر مكّي شافعي رحمۃ اللہ علیہ په فتاویٰ حديثيه كښې فرمائي: كله اولياؤ ته د غټو غټو خبرو حكم كولے شي، څوک چې د هغوئي د اوچتې مرتبې نه خبر نه وي چې هغوئي خبر شي يا د شُكرِ اِلٰہی او د هغه نعمت د اظهار كولو د پاره لكه څنګه چې د غوثِ اعظم رحمۃ اللہ علیہ د پاره اوشو چې هغوئي په خپل بيان كښې ناڅاپه اوفرمائيل چې زما ښپه د هر وَلي الله په څټ باندې ده، فوراً د ټولې دنيا اولياؤ قبوله كړه او يوې ډلې روايت كړے



www.dawateislami.net

دے چې ټولو پيريانو اولياؤ هم، او ټولو خپل سرونه ټيټ کړل. (فتاویٰ حدیثیه، ص:414)

ډيرو عارفينو کرامو (د الله پاک پيژندګلو لرونکو بزرګانو) فرمائيلي دي چې حضور شيخ عبدُ القادر جيلاني رحمۃُ اللہِ علیہ قَدَمِیْ هٰذِهٖ عَلٰی رَقَبَةِ کُلِّ وَلِیِّ الله د خپله ځانه اونه فرمائيل بلکې الله پاک د هغوئي د قُطبِيَّتِ کُبریٰ ظاهرولو د پاره هغوئي ته د فرمائيلو حکم اوکړو. لهٰذا يو ولي ته هُم ګنجائش پاتې نشو چې څټ يې نه وے ښکته کړے او قدم مبارک يـې په خپل څټ باندې نۀ وے اخستے بلکې په ډيرو روايتونو کښې دي چې ډيرو مخکښينو اوليائے کرامو د حضور غوثِ پاک رحمۃُ اللہِ علیہ د ولادت مبارک نه تقريباً سل کاله مخکښې خبر ورکړے وو چې ډير زر به په عَجَم کښې يو عظيم صاحب پيدا کيږي او دا به فرمائي چې **"زما دا ښپه د هر وليُّ الله په څټ باندې ده"** نو د هغه وخت ټول اولياء به د هغوئي د قدم لاندې سرونه کيږدي او د هغوئي د قدم په سوري [سايه] کښې به داخل شي. (فتاویٰ حدیثیه، ص:414)

غوث پر تو قدم نبی کا ہے
ان کے زیرِ قدو لی سارے
ہر ولی نے یہی پکارا ہے
واہ کیا بات غوثِ اعظم کی
اُن کا دشمن خدا کا ہے مقہور
اُس کی رحمت سے ہو گیا وہ دور
بُغض میں جس نے سر اُبھارا ہے
واہ کیا بات غوثِ اعظم کی

(وسائلِ بخشش، ص:579)

## وِلايت د نُبُوّت نه زيات نه دے

غوثِ پاک رحمۃُ اللہِ علیہ فرمائي چې هر يو ولي د يو نه يو چا په قدم باندې وي او زه د خپل نيکه يعني نبيِ اکرم صلَّی اللہُ علیہِ واٰلہٖ وسلَّم په قدم باندې يم هغوئي چې د کوم ځائے نه قدم اوچت کړو ما هلته خپل قدم کيښودو خو زه د نُبُوّت د قدم په ځائے قدم نشم کيښودے، ځکه چې دا مقام د انبيائے کرامو علیہمُ السّلام د پاره خاص دے. (بهجة الاسرار، ص:51)



www.dawateislami.net

په قصيدهٔ غوثيه کښې حُضُور غوثِ پاک رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي:

وَ كُلُّ وَلِيٍّ لَّهُ قَدَمٌ وَ اِنِّىْ عَلٰى قَدَمِ النَّبِيِّ بَدْرِ الْكَمَالِ

ترجمه: د هر يو وَلي قدم زما په قدم دے او زه د رسولِ پاک صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نقشِ قدم يم چې هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د آسمانِ کمال بدرِ کامِل (يعني د څوارلسمې سپوږمۍ) ده.

مصطفٰے کے تنِ بے سایہ کا سایہ دیکھا  جس نے دیکھا مری جاں جلوۂ زیبا تیرا

(حدائق بخشش، ص:19)

# په سرونو يې چې اخلي تاجونو والا

حضرت سيد احمد کبير رِفاعي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه اووئيل چې زما په څټ باندې او اوئې وئيل، دا وړوکے شان احمد هم په هغوئي کښې دے د کومو په څټونو باندې چې د غوثِ پاک ښپه ده، د دې وئيلو او د سر د ټيټولو پوښتنه چې ترينه اوکړے شوه نو اوئې فرمائيل چې دا وخت حضرت شيخ عبد القادر رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه په بغداد شريف کښې ارشاد فرمائيلے دے چې "**زما دا قدم د هر ولي الله په څټ باندې دے**" لِهٰذا ما هم سر ټيټ کړو او عرض مې اوکړو چې دا وړوکے شان احمد هم په هغوئي کښې دے، (د سهرورديه سلسلې پيرانِ پير) شيخ عبدُ القاهِر ابو النَّجيب سُهروردي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه خپل سر مبارک ټيټ کړو او اوئې وئيل (څټ څنګه) زما په سر باندې زما په سر باندې. سيد اَبُو مَدين شعيب مَغرِبي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه سر مبارک ټيټ کړو او اوئې وئيل زه هم په هغوئي کښې يم، الٰهي! زه تا او ستا فرښتې ګواه کووم چې ما د "قَدَمِي" ارشاد واوريدو او حکم مې اومنلو. شيخ عبدُ الرّحيم قناوِي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه خپل څټ مبارک اوغوړولو او اوئې وئيل رښتيا اووئيل رښتيا منلې شوي رښتوني. (فتاوىٰ حديثيه، ص:414)

شيخ حمّاد رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه چې د حضور غوثِ اعظم رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه په مَشائخ (بزرګانو) کښې دے، يو ځل هغوئي د غوثِ پاک په غير موجودګئ کښې اوفرمائيل، "د دې ځلمي سيّد قدم به د ټولو اولياؤ په څټونو باندې وي دوئي ته به الله حکم کوي چې اوفرمايئ: "زما دا ښپه د هر وَلِيُّ الله



www.dawateislami.net

په څټ باندې" او د هغوئي په زمانه کښې به ټول اولياءَ الله هغوئي ته سرونه ټيټ کړي او د هغوئي د (عظيمې) مرتبې د ظاهريدو په وجه به د هغوئي تعظيم کوي. (نزهة الخاطر الفاتر، ص:24)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد



www.dawateislami.net

# هفته واره رساله مطالعه

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د شيخ طريقت امير اهلِ سُنَّت حضرتِ علامه مولانا محمد اِلياس عطّار قادري رَضَوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه او خليفهٔ اميرِ اهلِ سُنَّت الحاج ابو أُسَيد عُبَيد رضا مَدَني مدّ ظلّه العالی له طرفه هره هفته د يوې رسالې لوستلو يا اوريدلو ترغيب ورکولے کيږي. ما شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! لاکهونه اسلامي ورونه او اسلامي خويندې دا رساله لولي يا اوري او د اميرِ اهلِ سُنَّت او خليفهٔ اميرِ اهلِ سُنَّت د دعاګانو حقدار جوړيږي. دا رساله په آډيو کښې د دعوت اسلامي د ويب سائټ

www.Dawareislami.net يا د Read and listen Islamic book ايپلي کيشن نه فري داؤن لوډ کيدے شي. د ثواب په نِيَّت يې پخپله هُم لوَلئ او د خپلو مرحومينو د ايصالِ ثواب دپاره يې تقسيموئ هُم.

(هفته واره رساله مطالعه)

978-969-722-614-6
01082468

فيضانِ مدينه، محلّه سوداگران، پرانی سبزی منڈی کراچی
UAN +92 21 111 25 26 92   0313-1139278
www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net
feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net